بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

سر یال نمبر: 556

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# افغانستان: د تي تي پي په داخلي اختلافاتو کښې شدت رامنځته شوی، دوه تنه خوارج جهنم ته استول شوی

په افغانستان کې د خوارجو تر منځ اختلافات بام ته رسېدلي دي. دا خوارج د پیسو او واک په حرص کې ړانده شوي، د یو بل د ژوند په اخیستو کې دي او وینې تویاوي۔

**د باوري سرچینو له مخې، د حافظ گل بهادر د تروریستي ډلې مشر لالي عرف منصور او تروریست عبدالله د افغانستان د خوست ولایت د گربز له مرکز څخه سیخامیر کلي ته پر لاره وو وژل شو۔ چې د حافظ گل بهادر ډلې او مرکزي تي تي پي تر منځ د خپل منځي اختلافاتو شاخسانه ده۔**




**له تېرو څو کلونو راهیسې د خوارجو تر منځ داخلي جگړه او د واک جگړه روانه ده، چې په ترځ کې یې مشران لکه عمر خالد خراساني، مسلم یار، اسد بابو، عبدالله عرف خاکي، بسم الله پهلوان، ذبیح الله او عبدالواحد وژل شوي دي۔**

په افغانستان کې د خوارجو مشرانو وژل کېدل د افغانستان د موقت حکومت درواغجني ادعاوې تر پوښتنې لاندې راولي ـ د پاکستان خلک له حکومته غواړي چې په افغانستان کې دننه د دغو خوارجو پر ضد اقدام وکړي څو دایمي سولې ته لاره هواره شي ـ

www.publicvoice.pk

مورخه: ۱۱ جون ۲۰۲۴ء